# عامه لګښت:

## یو نوی قانون نهایي دی!

تازه شوی
اکتوبر 2023



*په تېرو څو کلونو کې د "عامه لګښت" په اړه قانون څو ځلې بدل شو، له دې امله کورنۍ سرګردانه کېږي چې د هغوی لپاره د دې ټولو مفهوم څه دی. د عامه لګښت په اړه یو نوی قانون د 2022 کال په سپټمبر میاشت کې نهایي شو. د عامه لګښت په اړه د وروستیو معلوماتو لپاره دا فلایر بیا ترلاسه کړئ!*

### د امتیازاتو له کومو پروګرامونو څخه ***له اندېښنې پرته*** ګټه اخیستلای شم؟

د 2022 کال د عامه لګښت د نوي قانون له مخې، د لاندې دولتي پروګرامونو کارول به ستاسو د کډوالۍ پر وضعیت اغېز ونکړي او نه به ستاسو د کډوالۍ پر درخواست اغېز وکړي. تاسو ***او*** ستاسو ماشومانو او د کورنۍ غړي کولای شي ***له اندېښنې پرته*** استفاده ترې وکړي، که چېرته هغوی پر شرایطو برابر وي.

| | |
|---|---|
| ◂ NC Health Choice ،ACA ،Medicaid* (د ماشومانو روغتیایي بیمه)، وړیا یا تخفیف لرونکي کلینیکونه او نورې ټولې روغتیایي پاملرنې<br>◇ **پرته* د اوږدمهاله اداري پاملرنې چې لګښت یې د Medicaid له لورې ورکول کېږي | ◂ محدوده یا یو ځل مالي مرسته<br>◇ په دې کې د کرایې د مرستې پروګرامونه، د انرژۍ مرسته یا د مشخصو موخو لپاره نورې مالي مرستې شاملې دي |
| ◂ SNAP (د خوړو سټمپونه) | ◂ WIC (د ښځو، نوزېږو او ماشومانو د تغذیې پروګرام) |
| ◂ واکسینونه د کاونټي د روغتیا د ډیپارټمنټونو یا د ټولنې د کلینیکونو له لورې چمتو کېږي | ◂ عامه استوګنځی |
| ◂ ټول مالیاتي کریډټ، د ترلاسه شوي عاید د مالیې د کریډټ (EITC) او ماشوم د مالیې د کریډټو په ګډون | ◂ وړیا او د کمې شوې بیې د ښوونځي خواړه او سهارنۍ |
| ◂ د وزګارتیا امتیازات | ◂ د خوړو بانکونه یا سرپناوې |

◂ او نورې هغه ګټې چې په لاندې برخه کې <u>**ذکر شوې نه دي**</u>...

### ایا د امتیازاتو داسې پروګرامونه شته چې زه یې د کارونې ***په اړه باید اندېښنه وکړم***؟

<u>**یوازېني**</u> پروګرامونه چې د عامه لګښت د ازموینې لپاره په NC کې منفي ګڼل شوي دي، په لاندې ډول دي:

- دوه د نغدي مرستې پروګرامونه چې <u>جاري د اداینې چمتو کوي:</u> SSI (د معلولیت لرونکو والدینو لپاره تادیې)، او TANF (میاشتنۍ نغدي مرسته)، او
- <u>اوږدمهاله</u> اداري پاملرنه د حکومت په لګښت

**USCIS (کډوالي) به د امتیازاتو پر هر هغه پروګرام غور ونکړي کوم چې ستاسو د ماشومانو یا د کورنۍ د نورو غړیو له لورې کارول شوی وي. ستاسو پر شرایطو برابر ماشومان او د کورنۍ غړي کولای شي خپل د اړتیا وړ د امتیازاتو پروګرام وکاروي او کډوالي به د دې په اړه پوښتنه ونکړي او نه به ستاسو د کډوالۍ په درخواست کې پرې غور وکړي.**

## عامه لګښت څه شی دی؟

ځینې خلک چې د ګرین کارټ (قانوني د دایمي استوګنې وضعیت) یا ویزې ته نوم لیکنه کوي تر څو متحده ایالاتو ته راشي، هغوی باید د "عامه لګښت" له ازموینې څخه تېر شي - کومه چې ګوري چې ایا شخص به په راتلونکې کې په اساسي توګه پر دولتي خدمتونو متکي وي یا نه. د کډوالۍ چارواکي د شخص ټولو شرایطو ته ګوري، د هغوی د عمر، عاید، روغتیا، زده کړو یا مهارتونو، کورني وضعیت او د هغوی د سپانسر د ملاتړ سوګندنامې په ګډون.

# عامه لګښت پر هر چا نه پلی کېږي!

- **آیا تاسو او ستاسو د کورنۍ غړي د متحده ایالاتو اتباع یاست؟**

عامه لګښت پر تاسو نه پلی کېږي. تاسو باید په هغو پروګرامونو کې نوم لیکنې ته دوام ورکړئ چې تاسو یې مستحق یاست.

- **ایا تاسو یا ستاسو د کورنۍ غړي د مخه ګرین کارتونه لري؟**

که چېرته تاسو خپل ګرین کارت نوی کوئ یا د متحده ایالاتو د تابعیت ترلاسه کولو ته نوم لیکنه کوئ، نو عامه لګښتونه پر تاسو نه پلي کېږي.

**مګر که چېرته تاسو له 6 میاشتو څخه د ډېرې مودې لپاره هېواد ترک کړئ، کېدای شي چې پلي شي.**

که چېرته تاسو پلان لرئ چې له متحده ایالاتو څخه بهر اوږد سفر وکړئ، نو ښه خبره ده چې د کډوالۍ له یوه وکیل سره خبرې وکړئ.

- **ایا تاسو له لاندې حالتونو څخه کوم یوه ته نوم لیکنه کوئ یا یې لرئ: TPS، U یا T ویزه، د پناه غوښتنې یا کډوالۍ وضعیت یا د تنکیو ځوانانو د کډوالۍ ځانګړی وضعیت؟**

عامه لګښت پر تاسو نه پلی کېږي. که چېرته تاسو د کډوالۍ یو له دې حالتونو څخه لرئ یا ورته نوم لیکنه کوئ، تاسو کولای شئ د هر هغه دولتي پروګرام کارولو ته دوام ورکړئ چې تاسو یې مستحق یاست.

- **ایا پلان لرئ چې د کورنۍ پر بنسټ ګرین کارت ته نوم لیکنه وکړئ؟**

**عامه لګښت کېدای شي پلی شي.**

یوازېنې **امتیازات** چې په د عامه لګښت په ټست کې غور پرې کېږي عبارت دي له: د نغدي مرستې پروګرامونه چې حاري اداینې چمتو کوي (د NC په بېلګو کې دغه موارد شامل دي: SSI او TANF) او اوږدمهاله اداري پاملرنه لکه د لوړ عمر کسانو په کور کې چې د حکومت له لوري یې لګښت ورکول کېږي.

*موږ وړاندیز کوو مخکې له دې چې د کډوالۍ کوم درخواست وکړئ، نو د کډوالۍ له یوه یوه وکیل سره خبرې وکړئ.*

**د نورو معلوماتو لپاره:**

- چارلوټ او ور څېرمه کاونټۍ: (704) 376-1600
- ختیځه نارت کارولینا، ترینګل او ترېډ: (919) 856-2162
- لوېدیځه نارت کارولینا: (828) 253-0406

*(Se habla español او ژباړونکي په بېلا بېلو د لاسرسي وړ دي)*

NORTH CAROLINA JUSTICE CENTER

PISGAH LEGAL SERVICES

charlotte center for legal advocacy
justice lives here.

¡hola! CAROLINA